مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

احسان الله اریزی

۲۰۲۱/۱۲/۲۲

# غلط ګومان

## (یوه پخوانۍ لنډه کیسه)

د پلیو په لار ځای نه وو. د هغه ودانیو لوټې او لرګي پرې پراته وو چې د تېرې اونۍ په جګړو کې وراني شوې وې. د دولت څو ډلګیو یو بل ته مورچې نیولې او د واټ څو ودانۍ یې له خاورو سره برابرې کړې وې.

سړي د کور لږ سامان لکه بړستنې، بالښتونه، کټوې، یو زوړ ټې وي، پکه، دوه منظرې، لوښي او داسې شیان د ډمبر په څنډه کتار کړي او په خلکو د اخیستلو نارې وهلې.

په ډمبر د موټرو تګ راتګ لږ و او څو کسان چې د دوو ورځو کراري له امله، د خپلو کورونو څخه وتلي وو، د دې سړي شا اوخوا ولاړ وو او د خرڅلاو شیانو ته یې کتل.

د بړستنو د پاسه یوه لس- یوولس کلنه جلۍ هم ناسته وه چې په څېرو جامو کې یې ساړه کېدل او لړزیده. دې هڅه کوله چې د بړستنې پېڅکه په خپلو پښو واړوي؛ خو اخیستونکو بړستن هره شېبه لټ په لټ کوله.

چا هومره پیسې نه درلودې چې د کور سامان واخلي. ټول په وچه ډوډۍ پسې لالهانده وو؛ خو یو نیم به ډېرې پوښتنې کولې:

- دا سره زړه بړستن په څو ده؟

سړي به ځواب ورکړ.

- په هر څو یې چې غواړې وروره. بس پورته یې کړه!

- سړیه دا منظرې په څو دي؟

سړي چې ډېرې سترې هیلې یې درلودې، د دې پوښتنې په ځواب کې غلی پاته شو. چا په دې وخت کې هنري اثار او منظرې  څه کول! خلکو وچه ډوډۍ نه درلوده، دا سړی به هرومرو ټوکې کوي او منظرې نه اخلی!

سړي خپلې ګرانې لور ته وکتل چې هلته په بړستن ناسته وه او سترګې یې په ژړا سرې ښکارېدې.

یو سپین ږیری پوښتنه وکړه:

- یوازې بالښتونه او بړستنې د خرڅولو دي، که هغه... هغه ...؟

ډېرو ولاړو کسانو دې سپین ږیري ته وکتل. سپین ږیري داسې پوښتنه کړې وه چې نورو هم غوښته؛ خو جرئت یې نه کاوه.

ټولو غوږونه څک کړل چې څه واوري. ځورونکې چوپتیا خوره وه. کله نا کله به له لیرې، د ارګ له شا او خوا څخه د ډزو غږونه اوریدل کیدل؛ خو ولاړ کسان داسې بوخت وو چې لیرو ډزو ته یې پام نه کاوه!

سړي اخستونکي ته وکتل. هغه هم د ده په شان د پاخه عمر خاوند و او ډېر خوار ښکارېده. لکه چې دوه - درې ورځې یې د ډوډۍ مخ په سترګو نه وو لیدلی؛ خو سل زړونه یې یو کړل او خلکو ته یې وویل:

- دلته چې هر شی وینئ د خرڅولو دي!

سړي یو ځلی بیا خپلې لور ته وکتل او ورو یې خپلې اوښکې پاکې کړې.

ستره چوپتیا خپره شوه. ډېرو حاضرینو لومړی جلۍ او بیا شا او خوا ویجاړو ودانیو ته وکتل او بیا یې سترګی د ارګ لورې ته واړولې چې اوس د ماشینګړو غږونه هم ترې راتلل.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولـئ

سړي په زورونکي چوپتيا کې خلکو ته وکتل او دوی ته يې په سترګو کې ووېل چې ډېر اړ يم. د کور ډېر شيان مې په تېرو شپږو مياشتو کې خرڅ کړي. نور نو څه نه لرم، له هر څه سره کېږي؛ خو له لوږې سره نه کېږي. زما په کور کې دا درې مياشتې کټوه په اور نه ده بار. تاسو هم زما په شان ياست او د څه شي د اخستلو وس نه لرئ.
په دې وخت کې سړي وليدل چې يو ځوان چې وچې شونډې يې څو ځايه چاودلي دي، جلۍ ته ځير دی.
سړی لږ خوشاله شو او په زړه کې يې وويل چې که د خدای زړه رابانديې وسو، ناروغه مېرمن به ماښام ډاکټر ته بوځم چې دارو ورته واخلم او که نه په دوه – دريو ورځو کې مري.
سړي بيا خپلې اوښکې په پټه پاکې کړې او ورو يې غږ وکړ:
- واخلئ يه خلکو، دا هر څه له دې ځايه تر هغه ځايه د خرڅولو دي...
او په ګوتو يې داسې کرښه جوړه کړه چې جلۍ هم پکې راغله.
دوه دريو کسانو ته لومړي ژړا ورغله او بيا له کڼې ګوښې څخه ووتل.
همغه ځوان چې سړي په نښه کړی و، شا او خوا وکتل او بيا يې، زړه نا زړه او ډېر ورو پوښتنه وکړه؟
- هغه په څو ده؟ ... هغه ...!
سړي وويل:
- څه شی؟
ځوان خلکو ته وکتل او په ډېره وېره يې وويل:
- هغه...!
او ګوته يې د برستنې او جلۍ په لور ونيوه.
سړی نه پوهېده چې ځوان څه شی غواړي؟ ځکه يې په داسې غږ ورنه پوښتنه وکړه چې ژړا يې شا ته پټه وه.
ځوان په لږ شرم او ډېره وېره ځواب ورکړ!
- هغه ...!
يو چا لاحول والله وويل او وخوځېد. بل په شيطان لعنت ووايه او سګرټ ته يې پوکی ورکړ. دوه- دريو کسانو يو بل ته وکتل، لومړی يې د خپلو سترګو اوښکې وچې کړې او بيا لاړل.
سړي ځوان ته ورغی او دواړه يوی ګوښې ته لاړل.

*****

ماښام و چې سړی کورته ورسېد. کور تياره او نيمايي نړېدلی و. مشرۍ لور يې په انګړ کې خس ماتول؛ خو چې چې په پلار يې سترګې ولګېدې؛ په چيغو شوه او خونې ته لمنده واخيسته.
هو. دا نن يوازې شوې او خوړه خوړکی يې له لاسه ورکړې وه!!
سړی په انګړ کې تم شو؛ ځکه د ډېرو ژړاګانو د اورېدو حوصله يې نه درلوده.
مور او لور په خونه کې په کړېږو ژړل. سړي هم په انګړ کې ژړل. بله لار نه وه. چې کله غم دربانديې درونږ شي؛ نو ژاړه چې زړه دې سپک شي.
ده نن څو ډبيه سګرټ هم اخستي وو. په انګړ کې نور هم تم شو او لسم سګرټ ته يې تيلی ورکړ.

*****

ښځې چې له ډېرې ژړا او درد نه بېسده غونډې پرته وه، سړي ته وکتل.
سړی د ډبوې په تته رڼا کې ډېر مات ښکارېده. لکه يوه دنګه ونه چې په ځمکه پرېوتې وي، لکه يوه ښکلې مانۍ چې اور سيځلې وي. دې سړي ډېر ستر او ښکلي ارمانونه درلودل؛ خو جګړې هر څه ته د پای ټکی کېښود او دا دی نن يې د خپل زړه ټوټه، د سرو ګلو غونچه، نازولې ګېډۍ په پنځوس زره روپيو پلورلې وه!
ښځه په ژورو سوچونو کې ډوبه وه.
- خدايه دريغه دا ستا اسمان لوېدلی او هر څه درې ورې شوي وای!
بيا يې خپل مېړه ته وکتل چې نن سل ځلې مات ښکارېده:
- هو. په هغه وطن کې چې عدالت او ډوډۍ نه وي، پرېوتی اسمان ښه ښکاري!
په خونه کې د تودې ډوډۍ وږم خور و. د سړي مشرۍ لور لږ ډوډۍ اخستې او پټه- پټه خوړه. دا د شپاړلسو کالو پېغله د ښوونځي په اتم ټولګي کې وه چې په ښار ټکه ولوېده.
د غرونو لېوان په ښارونو وختل او بېسارې لوټ تالان ګډ شو.
ښځې سړي ته وويل:
- بېوزلی تر دې ځايه راوستو. بيا به څه کېږي؟


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

له ليرې ځخه د ډزو درانه غږونه راغلل. ښځه وبېرېده، خپلې لور ته يې وکتل او سړي ته يې وويل:
- پاځه سړيه. لږ اودس لمونځ وکړه چې خداى مهربانه شي!
سړي په غوسه ورته وويل:
- خداى له موږه خپه دى او موږ يې هير کړي يو! په هغه ښار کې چې عدالت او ډوډۍ نه وى، لمونځ نه کېږي.
ښځې توبه ويسته، لار ځينې ورکه وه، د ډزو غږونه نژدې کېدل.
ښځې خپلې لور ته وويل:
- بچې لږ ډوډۍ او اوبه راکړه چې ډېره وږې يم.
جلى انګړ ته لاړه چې له کوهي ځخه اوبه وباسي.
ډزې ډېرې نژدې وې، چا د دوى د انګړ دروازه ټکوله.
سړي فکر کاوه چې کېداى شي کوم ګاوندى په کيسه خبر وي او په خپلو پورونو پسې راغلى وي او يا ځوک پيسې په پور وغواړي.
چې کله يې دروازه بېرته کړه، هک اريان شو. شپږ- اووه خيرن ببرسري ټوپکيان هلته ولاړ وو او ده ته يې بد- بد کتل.
يو ببرسري چې (ډک سګرټ) ته پوکې ورکاوه، ده ته وويل:
- دا دې ډېر بد کار وکړ!
سړى هک پک ولاړ و او نه پوهېده چې دا ټوپکيان څنګه د ده د لور د خرڅولو په کيسه خبر شوي او نه پوهېده چې څه ځواب ورکړي؛ ځکه يې ورو وويل:
- ډېر مجبور وم، ډېر بېوزلي وو، ډوډۍ مو نه درلوده، په ورځو- ورځو به وږي او نهرناست وو او خونه او نغري مو ساړه وو.
يو ببرسري ورته وويل:
راغلى به واى او له موږ سره به دې ټوپک پورته کړى و!
سړي وويل:
- زه خداى غلا ته نه يم پيدا کړى!
ټوپکيان په غوسه شول، لکه تندر چې پرېوتى وي.
د دوه- درې ټوپکو خولې ده ته ځير شوې.
يو ببرسري وويل:
- د سپي بچيه، حرامي. ته خو وختي د وژلو وې؛ خو موږ دربانديې رحم کړى و!
سړي لا څه نه و ويلي چې د ببرسرو مشر بل (ډک سګرټ) ته تيلى ورکړ او په ډېره غوسه يې وويل:
- د سپي بچيه! موږ دا نه ژاړو چې تا لور خرڅه کړې، موږ ټول لوراني خرڅوو، زه دا وايم چې ته بايد پوستي ته راغلى او د دولت ماليه دې ورکړې واى!!!
دولت او موږ ستا په پيسو کې برخه لرو! دا موږ ته ګوره چې ستاسو په خدمت کې ياستو. که موږ نه واى، تاسو به څه کول؟
ناځاپه درز شو. هلته مخامخ په يو کور توغندى پرېوت او ډېر ژر د اور لمبې جګې شوې.
سړي هک اريان پاته و. په ماغزو يې اور بل و. خپل ژوند يې د سينما فلم غوندې تر سترګو تېريده. د ډېر سوچ وخت نه و. خيرن ببرسري له ماشينګنو سره تر ده چاپېر ولاړ وو.
سړي، ببرسرو ته وويل:
- کوم دولت؟
د ببرسرو مشر ځواب ورکړ!
- دا زموږ اسلامي دولت لکه چې ته نابسلمان هېڅ دولت نه بولې؟!
سړي په داسې حال کې چې د مخامخ اور لمبو ته ځير و، ورو وويل:
- زه وږى يم، زه نهر يم، نيم کور مې نړېدلى، وزګاره يم، مېرمن مې ناروغه ده، نن مې لور خرڅه کړى... ته د کوم اسلامى دولت خبرې کوې؟
او ژړا ورغله. له مخامخ کورونو ځخه چې سرې لمبې ترې جګېدې، اوس د ژړاوو غږونه هم راتلل.
سړى بيا ببرسرو ته وويل:
- تاسو د کوم دولت خبرې کوئ؟
يو ببرسري د ده مخ ته لاړې تو کړې او وې ويل:
- موږ څوارلس کاله په غرونو کې نهر تېر کړل، موږ وجنګېدو چې د خداى په ځمکه بانديې د خداى قانون نافذ کړو؛ خو تا غوندې کفار اوس هم دا دولت نه مني او ملنډې پرې وهي.
د ببرسرو مشر خپل يو ملګري ته وويل:


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالې د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

یو بل (ډک سګرټ) راکړه چې ماغزه مې دی کوپار ته ایشي.
بیا یې سړي ته مخ واړاوه او وویل:
ژر پنځه ویشت زره روپۍ مالیه راوړه. که سند غواړې سبا پوستې ته راشه چې رسید درکړم!! که پیسي نه راکوې؛ نو دا بله لور په مالیه کې راکړه! ته خو یې هسې هم سبا بل سبا خرڅوې!!!
کله چې ببرسري خیرن ټوپکیان له روپیو سره لاړل؛ سړي، ناروغه مېرمن او لور یې په تپه تیاره کې له کوره ووتل او نامعلوم لوري ته وخوځېدل.
تپه توره شپه وه؛ د لیرې اور رڼا د دوی سیوري وړل راوړل او د درنو ژړاوو غړونه اورېدل کېدل.

لومړی لیک میزان 1373 پېښور

بیا لیکنه 1394 ( ۱/۱/ ۲۰۱۶) - کابل


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ